لومړی کچه

# ویرونکی پیری



**لیکوال:** چندان یادب
**انځور ګر:** کوستوب کامت

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



یو وخت یو پیری و.
فکر يې کاوه چې ډير ويرونکی دی.



هغه هره ورځ کوښښ کاوه
چې يو کس و ويروي.



یوه ورځ هغه یو زمری و ویراوه.



بله ورځ يې يو فيل و ويراوه.




له هغې وروسته يې يو پهلوان و ويراوه.



يوه ورځ وروسته يې يو بريتور پوليس و ويراوه.



د پیري خوښیدل چې خلک ترې و ویرېږي.



او تر هغې به نه ويده کيده تر څو به يې چې يو کس نه وه ويرولی.



خو یوه ورځ هغه ناروغ شه. بیا یې هم غوښتل چې یو
کس و ویروي.



هغه د موږک ویرولو په فکر کې ؤ، او د موږک ویرول ورته آسانه ښکاریدل.



هغه په توره شپه کې د موږک کور ته ورغی، ګوري چې موږک په خواږه خوب ویده ده.



پیری د موږک خواته ور روان شو او د پښو دړب، دړب يې موږک له خوبه را ويښ کړ.



موږک و ویریده او په ریږدیدلي آواز یې وویل
”هې .. څوک یې؟“



پيري په ويرونکي غږ و ويل ”زه يو پيرى يم“.



موږک ووېل " او هو!  ته پیری یې؛ ما وېل چې پیشو ده."



موږک خپله کمپله واغوسته او بیرته ویده شه.

# لارښودونکې پوښتنې

1. پیري څوک و ویرول؟ د پیري په اړه تاسو ته څه ویل کیږي؟
2. ولې موږک له پیري څخه و نه ویریده؟
3. آیا فکر کوئ چې پیریان ریښتیا دي؟ آیا په خپله ټولنه کې مو د پیریانو قیصې اوریدلي دي؟
4. له کومو شیانو څخه ویره لرئ؟
5. آیا فکر کوئ چې له ویرې څخه ځان ساتل آسانه دي؟ هغه کوم کارونه دي چې تاسو د هغوی په کولو سره ځان له ویرې ساتلی شئ؟